# آیا هغه ذات چې ده ته يې په دنيا کې وړتيا ورکړې ده چې په پښو وګرځي پدې قادر ندی چې په قيامت کې يې په مخ وګرځوي؟

قتادة رحمه الله وايي: له انس بن مالک رضي الله عنه څخه روايت دی، چې يو سړي وويل: اې د الله نبي، کافر به څنګه په مخ راپورته کيږي؟ هغه وفرمايل: « آیا هغه ذات چې ده ته يې په دنيا کې وړتيا ورکړې ده چې په پښو وګرځي پدې قادر ندی چې په قيامت کې يې په مخ وګرځوي؟» قتادة وايي، ولې نه! زما دې زمونږ د رب په عزت قسم وي.
[صحيح دی] [متفق عليه دی]

له پيغمبر صلى الله عليه وسلم څخه پوښتنه وشوه چې کافر به څنګه د قيامت په ورځ په مخ راپورته کولی شي؟! نو رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: آیا هغه الله چې دی يې پدې دنيا کې په خپلو پښو ودراوه، پدې قادر ندی چې د قيامت په ورځ پر مخ وګرځوي؟! الله پر هر شي قادر دی.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/65068